# پښتو ژبه ولې سامي یا عبري ژبه بلل کیږي؟

- د ژبو د کورنۍ په شجره کښې موږ دا خبره ولوستله چې هغه ټولې ژبې د یوې کورنۍ د ې کومې چې د یوې اصیلي یا لومړنۍ ژبې (Proto-language) څخه راټوکېدلې وي، او دوی په ډېر برخو کښې ډېر څه ګډ لري.
- دلته د ځینو لیکوالو لخوا دا نظریه رامینځته شوه چې پښتو یوه سامي ژبه ده؟
- خو دا نظریه وروسته د علمي او ژبني څېړنو پر اساس باندي رده سوه، او د دې پر ځای باندي پښتو یوه اریایي ژبه وبلل سوه.

# پښتو ژبه ولې سامي یا عبري ژبه بلل کیږي؟

- راځو هغه علتونه تر څیړنه لاندې راولو چې پښتو ژبه یې د سامي ژبو د کورنۍ څخه ګڼلې ده. د دې خبرې یو علت دا دی، چې د اسلام د مقدس دین سره یو ځای زموږ هیواد ته عربي ژبه راغله، او د دې ژبې لغات په پښتو ژبه کې ګډ شول.
- له دې کبله چې هر لیکوال یا ژبپوهه په پښتو ژبه کښې عربي مغن لغات لیدلي دي، نو دا پریکړه یې کړې ده چې دا ژبه له سامي کورنۍ څخه ده.
- خو دا ګډون عارضي دی او د اسلام له مقدس دین سره د عربو تسلط راوړی دی.
- نتاریخي څیړنې په ګوته کوي چې د اسلام په ابتدا کې پر دې ژبه د عربي اثر لږ و او د دې ژبې لغات نه وو پرې راګډ شوي. د پښتو د اسلامي لومړۍ دورې ادبي اثارو او سندرو ته چې پام وکړو نو سوچه پښتو دي.

# پښتو ژبه ولې سامي یا عبري ژبه بلل کیږي؟

دویم علت:

- د پوهانو او لیکوالو لخوا دویم علت دا په ګوته شوی دی چې عبري او یهودي توکم (نسل) له پخوانو زمانو څخه د امو پر غاړو او زموږ د وطن په ښارو کې خپور شوي وو.
- ښاغلی فرلانګ په ۱۸۹۷ کې لیکي: چې د سیر دریا یوه باچا د یهودو ډېر اقوام بیت المقدس څخه د خراسان و خوا ته وشړل.
- دا یود په ۶۳۰ ق – م کې د باختر او هري رود پر خوا وهستېدل، دی وائي چې په تورات کې د (هارا) په نامه راغلي دي.
- دا نظریه چې اریایي مدنیت له سامي ثقافت سره په ویدي زمانو کې هم ارتباط درلود، د پوهانو له خوا هم څه نا څه څرګنده شوې ده.

# پښتو ژبه ولي سامي يا عبري ژبه بلل کيږي؟

## دا نظريه چا وړاندي کړه؟

- د دې نظريې پلويان داسې نظر لري چې د دې نظريې اساس (بنسټ) د پښتنو د اصل نسل په حقله دی، چې پښتانه بني اسرائيل دي. او د بني اسرائيلو ژبه عبراني وه، ځکه نو پښتو هم د عبراني ژبې اوسنی شکل دی.
- دا يوه نوې ژبه ده چې د سليمان (ع) په وختونو کښې د افغان په ذريعه د عبرانۍ الفاظو له تبديليو څخه مطرح (مخترع) شوې ده. دا افغانی ژبه که څه هم له وختنۍ ژبو څخه نه ده مګر يوه مستقله او نوې ژبه ده چې د عبربي لفظونو له تغير څخه يې وجود موندلی دی.

عبدالله جان عابد ليکي:

- دا نظريه تر ټولو له مخه په منظمه او مربوطه توګه نعمت الله هروي په خپل تاليف (تاريخ خان جهاني و مخزن افغاني) کښې راوړې ده، چې پښتانه بني اسرائيل ګڼي.

# پښتو ژبه ولې سامي یا عبري ژبه بلل کیږي؟

- ❖ خو ډاکټر یوسف جزاب له دې سره اختلاف څرګند کړئ دی:
- ❖ دی لیکي: چې نعمت الله هروي اول کس نه دی چې دا دعوی یې کړې ده، د مخزن دا کتاب په(۱۶۱۶) کښې لیکلئ دی، خو په ۱۵۶۸ کښې تورایخ دولت شیر شاهي له امیر حسن علي خان او په ۱۵۸۲ کښې تذکره الابرار والاشرار له اخون درویزه څخه مخکښې راغلي وو. چې په دې کښي د پښتنو په اړه د دوی د اسرائیلیت دعوی شوې ده.
- ❖ خو دا یو حقیقت دی چې نعمت الله هروي دا نظریه په منظم او مربوط ډول وړاندې کړه چې راتلونکو یې تقلید وکړئ.
- ❖ د دې نظریې په تائید کوونکو کښې د لویدیځ لیکوالو څخه هیر ټامس هولډچ، جې، ډبلیو سپین، راورټي او له مشرقي مورخینو څخه حافظ رحمت خان، خان روشن خان، علامه اقبال او الله بخش یوسفي دی، چې تاریخ خان جهاني و مخزن افغاني یې بنیادي ماخذ ګرځولی دی. (ډاکټر جزاب)

# پښتو ژبه ولي سامي یا عبري ژبه بلل کیږي؟

## د دې نظریې مهمې نکتې

۱ – دافغانانو ستر نیکه طالوت وو، چې د هغه شجره نسب حضرت یعقوب علیه السلام ته رسیږي.

- د ځینو پوهانو په خیال کښې طالوت د ابن یامین بن حضرت یعقوب (ع) له اولاد څخه وو،
- او ځیني وائي چې د یهود ابن حضرت یعقوب علیه السلام له ال څخه وو.

۲ – ارمیا او برخیا د طالوت زامن (زویان) وو، چې یو د حضرت داود (ع) د فوځ امیر او بل یې د سلطنت وزیر وو.

- د ارمیا زوی – افغنه
- د برخیا زوی – اصف نومېده
- د ارمیا او برخیا د مرګ پس دوی د خپلو پلارونو پر منصب باندې کښېناستل.

# پښتو ژبه ولي سامي يا عبري ژبه بلل کيږي؟

۳ – بخت نصر چې کله بيت المقدس ونيولی (فتح) نو ډير اسرايليان يې ووژل، ډير يې بند کړل او ځيني يې خراسان او کوهستان په لور وشړل.

❖ دا رنګه د افغنه اولاد په ايران او افغانستان کښې استوګن شو.

۴ – د حضور (ص) په وخت کښې حضرت خالد بن وليد رضی الله عنه د ملک طالوت د نسل څخه وو.

۵ – قيس د افغانانو دويم ستر نيکه وو،

❖ قيس د حضور (ص) معاصر وو، او د حضرت خاليد بن وليد په دعوت يې په حضور (ص) باندي ايمان راوړی.

❖ د ده شجره په اووه ديرشم (۳۷) پښت کښي ملک طالوت ته

❖ او په پنځه څلوېښتم (۴۵) پښت کښې حضرت ابراهيم (ع) ته

❖ او په درې شپېتم (۶۳) پښت کښې حضرت ادم (ع) ته رسيږي.

# پښتو ژبه ولي سامي يا عبري ژبه بلل کيږي؟

۶ – د قيس عبدالرشيد درې زامن وو:

- سړبن
- بېټن
- غرغشت
- چي له دې څخه د پښتنو ټولي قبيلې جوړي شوي دي.
- له دې پرته مېجر راورټي د پښتو ډيکشنري په مقدمه کښي ليکي:
- زه غواړم دا نتيجه واخلم چي افغانان د يهودانو د لسو قبيلو بقايا دي.

# پښتو ژبه ولي سامي یا عبري ژبه بلل کیږي؟

- خان روشن خان په خپل کتاب (تذکره) کښې یو باب (پښتو اور سامي زبانین) تر سرلیک لاندي لیکلئ دی. په دې باب کښې روشن خان ډیر سامي لفظونه او نومونه راوړي دي چي په پښتو ژبه کښې استعمالیږي، ځکه خو لیکي:

  پښتو او سامي ژبې د یو وجود اندامونه دي.

- مګر وروسته چي د اروپا محقیقین راغلل، او د دې ژبې قواعد او اصول یې په علمي معیار باندي وڅېړل.

- له دې سره دوی په ښکاره د پښتو د سامي توب نظریه افسانه وګڼله او د پښتو تعلق یې له بني اسرایلو سره ډیر لیري وبللی.